# په دستارنامه کښې د صحاح سته دحديثونو تخريج

# Validity of Hadiths from Sehah-e-Setha written in Dastar Nama

Abdul Hakim Shah*

**Abstract**

Khushal khan Khattak is the shining star of Pashto literature. He is still regarded as the fountain of Pashto literature even today in 20th century. His authenticity will be forever and time and tide will not wash it away. To awake the Pashtoon, He adopted poetry and prose for the said purpose and wrote on every walk of life and left Un-turn stone effect on life. Dastar Nama is one of the immortal prose works of these. He wrote this book in 1076 hijri when he was in jail in fort of Ranthambore and was passing the life of imprisonment on the order of Mughal king Aurangzeb Alamgeer. This book has great importance from thinking and literature point of view. The point of national awareness is the prominent feature of this book. This book is structurally and subjectively is the new invention Pashto literature. In order to make this book eloquent and rhetoric. He has taken Quranic verses, Hadiths, proverb from Arabic and Persian, Persian verses and authenticity of different sources. Due to all these qualities this book is matchless. In this Paper these hadiths has been validated which has their existence Sehah-e-Setha.

خوشحال خان خټک د پښتو ادب په اسمان هغه ځلنده ستورے دے چې د څلور سوه کاله تېرېدونه پس ئې ځلا او برېښنا نن هم هغسې روښانه ده ـ دا پړقا نۀ يوائې تر دې دمه ده، بلکې تر څو چې پښتو ادب وي نو د پښتو ادب په اسمان به دغه ځلنده ستورے تل تر تله ځلېږي ـ خوشحال بابا د خپل پښتون اولس د پوهې دپاره په شعوري توګه پښتو کښې له هره بابه په نظم او نثر دواړو کښې خپل قلم ښۀ په خلاص مټ چلولے دے ـ

دغه رنګ دستارنامه د خوشحال خان خټک د نثر يوکتاب دے ـ داکتاب خوشحال بابا په کال ۱۰۷۶ هجرۍ کښې هغه وخت ليکلےدے، چې د مغلي واکمن اورنګزېب عالمګير

PhD Scholar, Pashto Academy, University of Peshawar *

په فرمان دۀ د رنتنبور په کوټ کښې د يو قېدي او زنداني په حېث د ژوند ورځې تېرولې ـ دغه کتاب په فکري او ادبي لحاظ ډېر اهميت لري ـ په دې کښې د قامي شعور بېدارولو اړخ ډېر جوت دے ـ دا د پښتوادب د نثر په ارتقاء کښې د هيئت،موضوع له مخه نوے بنياد دے ـ دا په قرآني آيتونو ، مبارکو حديثونو،فارسي او پښتو شعرونو ، حکايتونو او عربي متلونو مدلل کتاب دے ـ په دې تحقيقي ليک کښې په دستارنامه کښې راوړل شويو د هغه حديثونو تخريج کولے شي کوم چې د حديثونو شپږ مشهور کتابونوکښې محفوظ دي او صحاح سته بللے شي[1] ـ خو د دې نه مخکښې چې اصل موضوع ته راشو، ښه به دا وي چې د تخريج په لغوي او اصطلاحي مطلب لنډه شان خبره وشي ـ تخريج د عربي ټکے دے ـ د خَرَجَ نه وتے دے ـ مطلب ئې دے وتل، يستل، جوتېدل ـ لغت پوهان ليکي:

خرج: وتل[1]

خرج: جوتېدل[2]

*تخریج: (تخ-ریج)[ع-ا-مث] خارج کرنا، نکالنا* [3]

ترجمه: خارجول، يستل ـ

مصطلحين د تخريج اصطلاحي تعريف داسې بيانوي:
ډاکټر محمد اشرف کمال ليکي:

ترجمه:" تخريج نه مرادپه يومتن کښې موجود قرآني ايتونه، حديثونه ،اقوال، تلميحات، شعرونه يا مصرعې دي، چې د يو متن د تشريح يا دمضمون دمناسبت په حواله په متن کښې راوړې شوي وي،هغه نيمګړي وي ـ د هغې حواله موجوده نۀ وي ـ نو دغه د حاشيې او حوالې سره مکمل ليکلو ته تخريج وئيلے شي" [4]

ډاکټر محمد اشرف کمال د شان الحق حقي قول نقل کوي،ليکي:

ترجمه: "د تخريج نه مراد نتيجه را ايستل، د شعرونو او حديثونو اصل حواله لټول، دي"[5]

عسيلان وائي:

[1] صحاح سته: صحيح البخاري (م۲۵٦هـ)،صحيح المسلم (م۲۵۱هـ)،سنن ترمذي (م۲۷۹هـ)،سنن ابوداؤد(م۲۷۵هـ)، سنن نسائي (م۳۰۳هـ)،سنن ابن ماجه (م۲۷۵هـ) ـ

ترجمه: " په يومتن کښې ------ دقرآني آيت،د مبارک حديث، د تاريخي واقعې،دمتل ،د شعر اصل مصادر په ګوته کول، تخريج بللے شي"[6]

ډاکټر نذيراحمد ليکي:

ترجمه: "تخريج د تحقيق په اصطلاح کښې هغه عمل دے چې له کبله ئې د يو اديب يا شاعر په کلام کښې د بل چا او د نورو کلام په ګوته کولے شي ـ اکثر مصنف خپل بيان کښې زړۀ راښکون پيدا کولو دپاره ، خپل بيان مستند او وقيع جوړولو دپاره د قرآن آيتونه،نبوي حديثونه،معروف اقوال، متلونه، شعرونه وغېره راوړي---- هم د دغه اقوالو او شعرونو په ګوته کول او د دې منابع په ډاګه کول د تخريج په حدودو کښې راځي "[7]

دمتن څېړنې ترمخه تخريج بنيادي اهميت لري ـ هم د دې په وسيله د يو متن سمونه کېدے شي او ورسره ورسره ئې په حاشئې او تعليقاتو کښې وضاحت کولے شي ـ د دې په وجه دمتن د صحت ستونزه هواره شي او لوستونکي ته صحيح معلومات وړاندې شي ـ لوستونکے نۀ يواځې د مصنف استناد او استشهاد نه پوره پوره خبر شي بلکې د مصنف د منشاء او غرض په پوهېدو کښې ورته اساني پيدا شي ـ هم دغه د تخريج اصل غرض او غايت دے ـ د تخريج د لنډ شان وضاحت نه پس په" دستارنامه " کښې راغلي د صحاح سته حديثونو ته پام راګرځوو ـ

په دستارنامه کښې خوشحال بابا په دوؤ طريقو حديثونه راوړي دي ـ يو ئې نېغ په نېغه د حديثونو متن راوړے دے ـ بل ئې د مضمون،دمفهوم او دمعنې ترمخه حديثونه ذکر کړي دي ـ دغه هم بيا په دوه قسمه دي ـ يو داسې چې خوشحال خان ئې په خپله وضاحت کړے دے چې حديث دے يا رسالت (ص) فرمائيلي دي ـ بل داسې چې خوشحال بابا ئې د حديث په حواله په خپله څۀ وضاحت نۀ دے کړے ـ دلته يواځې د هغه حديثونو جاج اخيستے شي کوم چې د متن له مخه په دستارنامه کښې ذکر شوي دي ـ ياده دې وي دلته چې د دستارنامې د مخ شمېره ورکړے شوې ده ـ هغه د مرحوم عبدالشکور پېش کرده دستارنامه ده ـ د غه نسخه د اداره اشاعت سرحد پېښور له خوا په کال ۱۹۵۲ءکښې چاپ شوې ده ـ

## ۱ مخ ٦

حديث دے: (( لَيْسَ مِنَّا مَنْ تَشَبَّهَ بِغَيْرِنَا ))

خوشحال بابا د خپلې خبرې په دلیل کښې حدیث پیش کړے دے ـ چې په اصل کښې د یوۀ حدیث برخه ده ـ مکمل حدیث داسې دے چې امام ترمذی دسلام په باب کښې نقل کړے دے ـ حضور (ص) فرمائي:

لَيْسَ مِنَّا مَنْ تَشَبَّهَ بِغَيْرِنَالَاتَشَبَّهُوْ بِاالْيَهُوْدِ،وَ لَابِالنَّصَارَى،فَإِنَّ تَسْلِيْمَ الْيَهُوْدِ الْإِشَارَةُ بِاالْاَصَابعِ، وَتَسْلِيْمُ النَّصَارَى الْإِشَارَةُ بِا الْأَكُفِّ[8]

دحدیث مطلب دے چاچې دغېرومشابهت وکړوزمونږ نه نۀ دے- دیهودواو د نصاراؤ مشابهت مه کوئ،یهود سلام کوي په ګوتوسره، اونصارٰی سلام کوي په وَرْغَوْيو سره-
داحدیث دسلام دمشابهت په حقله راغلے دے ـ خوشحال خان د دستارد مشابهت نۀ کولو متعلق خبره کړې ده ـ د دستار په حواله د مشرکینوسره مشابهت نۀ کولو په حقله حضور(ص) فرمائي:

اِنَّ فَرْقَ مَابَيْنَنَا وَبَيْنَ الْمُشْرِكِيْنَ الْعَمَائِمُ عَلَى الْقَلَانِسِ [9]

ترجمه: بې شکه زمونږ او د مشرکینو په مینځ کښې فرق،په ټوپۍ دپاسه دستار تړل دي ـ (مشرکین بغېرټوپۍ نه دستار په سرتړي ) ـ

خوددې نه علاوه هم که دسلام مشابهت وي یا د دستار تړلو مشابهت وي، د عمومي مشابهت نه هم منعه کړې شوې ده ـ په دې حقله حضور(ص) فرمائي:

مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ [10]

مطلب دا چاچې دکوم قوم مشابهت اختیارکړو پس هغه دهغوي نه دے ـ

## ۲ مخ ۲۵

العلماء ورثة الانبياء

خوشحال خان علماء د نبیانو وارثان ګڼي اوپه استدلال کښې حدیث راوړي ـ د دې په حقله ئې په خپله څۀ وضاحت نۀ دے کړے ـ دا په اصل کښې دیوۀ حدیث برخه ده ـ پوره حدیث اوږد دے ـ خود دې برخې اصل الفاظ په ترمذي،ابوداؤد،ابنِ ماجه کښې داسې دي:

اِنَّ الْعُلَمَآءَ وَرَثَةُ الْاَنْبِيَاءِ [11]

معنٰی ئې ده : بې شکه عالمان دنبیانو وارثان دي ـ

## ۳ مخ ٤٨

رسالت پناه (ص) وته چا ووې، چې کومه وسله بهتره ده ـ جواب ئې ورکړۀ، چې (( اَلرَّ مْی اَلرَّ مْی )) یعني غشے غشے- دا حدیث په مبالغه واقع شوےدے ـ

خوشحال خان خټک په دې عبارت کښې دغشي په حقله دیوۀ حدیث څوټکي راوړي دي ـ اصل حدیث داسې دے:

عامر الجهنی یقول: سَمِعْتُ رَسُوْلُ اللّٰہ (ص) وَهُوَ عَلَی الْمِنْبَرِیَقُوْلُ: (( ﴿وَاَعِدُّوْ لَهُمْ مَاسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّ ةٍ﴾ اَلاَ اِنَّ الْقُوَّ ةَ اَلرَّ مْی، اَلاَ اِنَّ الْقُوَّ ةَ اَلرَّ مْی، اَلاَ اِنَّ الْقُوَّ ةَ اَلرَّ مْی [12]

ترجمه: عامرجهنیؒ فرمائي: مادحضورپاک (ص) نه په ممبر د دے آیت ﴿وَاَعِدُّوْ لَهُمْ مَاسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّ ةٍ﴾ دا تفسیربیانول واورېدل (( خبردار! قوت نه مرادتیراندازي ده، خبردار! قوت نه مرادتیراندازي ده،خبردار! قوت نه مرادتیراندازي ده))

## ٤ مخ ٧٣

اَلْجَنَّۃُ تَحْتَ ظِلاَ لِ ُالسُّیُوْفِ

خوشحال خان ددې عبارت په حقله څۀ وضاحت نۀ دے کړے ـ دا د یوۀ حدیث برخه ده ـ مکمل حدیث اوږد دے ـ د دې برخې اصل ټکي داسې دي:

اِنَّ اَبوَابَ الْجَنَّۃِ تَحْتَ ظِلاَ لِ ُالسُّیُوْفِ [13]

ترجمه: بې شکه دجنت ورونه(جنت)دتُوروترسایه لاندې دي ـ

## ٥ مخ ١١٤

لوکنت امر لاحدان یسجدلاحد لامرت النساء ان یسجدن لازواجهن لما جعل الله لهم علیهن من الحق

خوشحال بابا د سړي د افضلیت په باب د دلیل په توګه حدیث پیش کوي ـ مکمل حدیث سره داعرابو او ترجمې داسې دے ـ حضور(ص) فرمائي:

لَوْ كُنْتُ آمِراً أَحَدًا أَنْ يَّسْجُد لِأَحَدٍ لَأَمَرْتُ النِّسَاءَ أَنْ يَّسْجُدْنَ لِأَزْوَاجِهِنَّ لِمَا جَعَلَ اللّٰهُ لَهُمْ عَلَيْهِنَّ مِنَ الْحَقِّ [14]

ترجمه: که چرې ما یوکس ته د بل کس دپاره د سجدې حکم کولے ،نوما به ښځوته حکم کړے وۀ چې دوي خپلومېړونوته سجده اوکړي ـ ځکه چې الله پاک په ښځوباندې د مېړونو حق ایښے دے ـ

دخوشحال خان د دې حدیث (دلیل) په حقله چې کوم حدیث محترم مشواڼي صاحب په استدلال کښې پېش کړےدے ـ یا محترم پروفېسر ډاکټر یار محمد مغموم صاحب په حاشیه کښې د [لزوجها] ټکے لیکلے دے [15]. هغه هم دغه حدیث دے.

مشواڼي صاحب لیکي: " په دې اړه له ابوهریرة څخه یوحدیث په دې ډول دے ـ "[16] بیائې حدیث نقل کړے دے ـ دغه حدیث په سُنَنِ تِرمذي او په سُنَنِ ابنِ ماجه کښې راغلےدے:

عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ (رض) عَنِ النَّبِي (ص) قَالَ (( لَوْ كُنْتُ آمِرًا أَحَدًا أَنْ يَسْجُد لِأَحَدٍ لَأَمَرْتُ الْمَرْأَةَ أَنْ تَسْجُد لِزَوْجِهَا [17]

ترجمه : په ابنِ ماجه کښې چې کوم حدیث دے هغه د حضرت عائشه(رض) نه نقل شوے دے خو د (( لَوْ كُنْتُ)) په ځاے(( لَوْ أَمَرْتُ )) [18] راغلي دي ـ
خوشحال بابایوبل ځاے کښې دغه مفهوم داسې بیان کړے :

داحدیث د محمد ص دے
چې ئې نۀ مني مرتد دے
سجود خداے وته کاوۀ
بې له خدایه سجودنۀ شي
شي که نورچا وته روا وے
خپل مېړۀ ته د نساء وے[19]

## ۶ مخ ۱۸۰

انكحوفانى تكاثر بكم انكحو امهات الاولاد فانى اباهي بهم يوم القيامة

ترجمه: خوشحال بابا دغه په یوۀ حدیث کښې بیان کړي دي ـ خوپه اصل کښې دا دوه بېل بېل حدیثونه دي ـ اول حدیث د ابن ماجه دے ـ سم ټکي ئې داسې دي ـ

أَ نْكِحُوْا فَإِنِّيْ مُكَاثِرٌ بِكُمْ [20]

ترجمه: تاسو نکاح کوئ زۀ په تاسولوئي کوم ـ (ستاسوپه زياتوالي)
دوېم حديث د کنزالعمال حديث دے ـ

## ۷ مخ ۱۱۵

النکاح من سنتي فمن رغب عن سنتي فليس مني

ترجمه : د نکاح سنت په حقله چې خوشحال خان کوم حديث پېش کړے دے،دغه په اصل کښې د دوؤ بېلا بېلو حديثونوبرخې دي ـ عالمان صاحبان ئې د نکاح خطبې کښې هم د يوۀ حديث په زُمره کښې لولي اوله حصه ئې د ابنِ ماجه د يوۀ حديث برخه ده مکمل حديث داسې دے:

أَلنِّكَاحُ مِنْ سُنَّتِيْ فَمَنْ لَّمْ يَعْمَلْ بِسُنَّتِيْ فَلَيْسَ مِنِّيْ [21]

ترجمه: نکاح زماسنت دے اوچاچې زماپه سنت عمل نۀ اوکړو هغه زما نه نۀ دے ـ
دوېمه برخه ((فمن رغب عن سنتي فليس مني)) د بخاري د يوۀ حديث برخه ده ـ اصل الفاظ ئې داسې دے:

أَتَزَوَّجُ النِّسَاءَفَمَنْ رَّغِبَ عَنْ سُنَّتِيْ فَلَيْسَ مِنِّيْ [22]

ترجمه: ښځوسره نکاح کوئ چا چې زماد سنتو نه اعراض وکړو هغه زما نه نۀ دے ـ

## ۸ مخ ۱۱۹

اللهم جنب الشيطان مني ومنها اللهم اني اسالک خيرهاو اعوذبک من شرها

خوشحال خان د وادۀ شپې د ادابومتعلق خبره کړې ده ـ چې څوک وادۀ اوکړي هغۀ ته په کار دي چې د ناوې اوربل اونيسي او دعا ورته اوکړي ـ بيا ئې دعا ذکرکړې ده ـ چې په اصل کښې د يوۀ حديث نه ثابته ده ـ حديث داسې دے:

إِذَا تَزَوَّجَ أَحَدُكُمُ اِمْرَأَةً أَوِ اشْتَرٰى خَادِمًا فَلْيَقُلْ اَللّٰهُمَّ إِنِّىْ أَسْأَلُكَ خَيْرَهَا وَخَيْرَ مَا جَبَلْتَهَا عَلَيْهِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا وَمِنْ شَرِّ مَا جَبَلْتَهَا عَلَيْهِ قَالَ أَبُو داوُد زَاد أَبُوْ سَعِيدٍ ثُمَّ لِيَأْخُذْ بِنَاصِيَتِهَا وَلْيَدْعُ بِالْبَرَكَةِ [23]

ترجمه: (( تاسوکښې چې څوک د يوې ښځې سره نکاح کوي يا خادم اخلي بيا دې دا دعاوائي: يا الله زۀ د دې خېرتانه غواړم کوم چې تاپه دې کښې پيداکړے دے ـ او زۀ د ستاپناه غواړم د دې دشرنه کوم چې تاپه دې کښې پيداکړےدے)) ـ او ابو داؤد وائي د ابوسعيدپه روايت کښې دغه اضافه ده ((بيادې ئې د پېچکو نه اونيسي اود برکت دعادې اوغواړي)) ـ

د خوشحال بابا په راوړل شوې دعاکښې دا ټکي (( اللهم جنب الشيطان مني ومنها)) د دے حديث الفاظ نۀ دي- البته دغه ټکي د بخاري په يوۀ حديث کښې د جماع په باب کښې راغلي دي- مکمل حديث داسې دے:

لَوْ أَنَّ أَحدكُمْ إِذَا أَتَى أَهْلَهُ قَالَ اَللّٰهُمَّ جَنِّبْنِي الشَّيْطَانَ،وَجَنِّبْ الشَّيْطَانَ مَا رَزَقْتَنِي،فَإِنْ كَانَ بَيْنَهُمَا وَلَدٌ لَمْ يَضُرَّهُ الشَّيْطَانُ [24]

ترجمه: که چېرته تاسوکښې څوک دخپلې مېرمنې سره جماع کوي نودا دعادې ووائي ياالله خواته کړې مادشيطان او شيطان دهغې نه ـ چې تامونږته راکړې دي ـ که چېرته د دوي اولاد پيداکيږي نوهغۀ ته به شيطان نقصان نۀ شي ورکولے-

## ۹ مخ ۱۳۱

د ديو په باب دا هم واردشوي دي: ايما امراة ماتت وزوجهاعنهاراض دخلت الجنة

دلته خوشحال بابادخپلې خبرې کولونه مخکښې ددليل په توګه حديث پيش کړے دے ـ خو د حديث په حقله ئې څۀ وضاحت نۀ دےکړے ـ حديث سره د اعرابوداسې دے ـ حضورS فرمائي:

أَيُّمَا اِمْرَأَةٍ مَاتَتْ ، وَزَوْجُهَا عَنْهَا رَاضٍ دخَلَتِ الْجَنَّةَ [25]

ترجمه ئې خوشحال بابا په خپله کړې ده:يعني هره عورتينه چې اومري مېړۀله دې راضي وي ـ هغه به ننه وځي په بهشت-

## ۱۰ مخ ۱۵٤

اناوامراة سفعاء الخدين کهاتين يوم القيامة واومايزيد باالوسطی والسبابة امراة امت من زوجهاذات منصب وجمال وحبست نفسها علی يتاماها حتی بانو وماتو

خوشحال باباد کونډتون په حقله په دليل کښې حديث پيش کړے دے ـ اعرابو سره داسې دے ـ حضور (ص) فرمائي:

أَنَا وَامْرَأَةٌ سَفْعَاءُ الْخَدیْنِ کَهَاتَیْنِ یَوْمَ الْقِیَامَةِ. وَأَوْمَأَ یَزِیدُ بِالْوُسْطٰی وَالسَّبَّابَةِ امْرَأَةٌ آمَتْ مِنْ زَوْجِهَا ذَاتُ مَنْصِبٍ وَجَمَالٍ حَبَسَتْ نَفْسَهَا عَلٰی یَتَامَاهَا حَتّٰی بَانُوْا أَوْ مَاتُوْا [26]

د دې حديث مطلب خوشحال بابا په خپله بيانوي:
د دې(ښځې ) مېرۀ اومري صاحب جمال،صاحب نسب ـ دا بل شوهر اونۀ کا ـ د فرزندانو مور وي- دشوهر غم هسې پرې اولګېږي ـ چې د مخ ګونه ئې توره شي ـ توره سياهي لکه ترسېږي په مخ اوزغلي ـ هغه عورتينه به زماسره هسې بهشت لره سمه ځي لکه وسطٰی او سبابه ګُتې چې سره سمې دي ـ

## ۱۱ مخ ۱۷۲

انماالاعمال باالنيات

خوشحال بابا د دے څۀ وضاحت نۀ دے کړے ـ خودا د يومشهور حديث برخه ده ـ پوره حديث اوړد دے ـ دغه برخه ئې د اعرابو سره داسې ده:

اِنَّمَاالْاَعْمَالُ بِاالنِّیَّاتِ [27]

ترجمه: د عملونو مدار په نيتونو دے ـ
خوشحال بابا د نيت متعلق هم د دې کتاب د لسم هنر په اخرکښې د دې حديث مضمون داسې وړاندې کوي:

په نيت جوړاوسه خوشحاله
همګي مدارپه نيت دے

په يوې رباعيۍ کښې ئې داسې ترجمه کوي:

که دي نيت سازدےعمل دي سازدے
که دي روژې دي که دي نمازدے
مدارپه نيت راغے مرادپه نيت راغے
دين او دنيالره په نيت کښې رازدے [28]

## ۱۲ مخ ۱۹۳

کلکم راع وکلکم مسؤل عن رعيته

خوشحال باباامير مسؤل ګڼي او دخپلې خبرې د مظبوطوالي دپاره په دليل کښې د يوۀ حديث برخه راوړې ده ـ خو ددې په حقله ئې په خپله څۀ وضاحت نۀ دے کړے ـ پوره حديث داسې دے ـ حضورS فرمائي:

كُلُّكُمْ رَاعٍ فَمَسْئُوْلٌ عَنْ رَعِيَّتِهٖ ، فَالْاَمِيْرُالَّذِىْ عَلَى النَّاسِ رَاعٍ عَلَيْهِمْ وَهُوَمَسْئُولٌ عَنْهُمْ،وَالرَّجُلُ رَاعٍ عَلٰى اَهْلِ بَيْتِهٖ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْهُمْ،وَالْمَرْأَةُ رَاعِيَةٌ عَلٰى بَيْتِ بَعْلِهَاوَوَلَدِهٖ وَهِىَ وَمَسْئُولَةٌ عَنْهُمْ،وَالْعَبْدُ رَاعٍ عَلٰى مَالِ سَيِّدِهٖ وَهُوَمَسْئُولٌ عَنْهُ، اَلَافَكُلُّكُمْ رَاعٍ وَ كُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهٖ [29]

ترجمه: تاسو کښې هريو څارونکے(نګهبان،نګران) دے ـ او دۀ نه به د خپل رعيت بارې کښې پوښتنه کېږي، او امير د خلقو څارونکے دے او دۀ نه به د خپل رعيت پوښتنه کېږي،ښځه د خپل خاوند او دهغۀ د کور او بچيانو څارونکې ده او دې نه به د دې بارې کښې پوښتنه کېږي، اوغلام دخپل مالک د مال څارونکے دے او دۀ نه به د دې بارې کښې پوښتنه کېږي، خبرشئ چې تاسوکښې هريو څارونکے دے او د هريوۀ نه به دخپل رعيت بارې کښې پوښتنه کېږي ـ

## ۱۳ مخ ۱۰۹

السعيد فى بطن امه والشقى فى بطن امه

خوشحال خان ددے عبارت متعلق څۀ وضاحت نۀ دے کړے ـ خوپه دې کښې د يوۀ حديث مفهوم بيان شوے دے ـ حديث داسې دے ـ حضور (ص) فرمائي:

اَلسَّعِيْدُمَنْ سَعَدفِيْ بَطْنِ اُمِّهٖ وَالشَّقِيُّ مَنْ شَقِيَ فِيْ بَطْنِ اُمِّهٖ [30]

ترجمه: خوش بخت هغه دے چې د مور په خېټه کښې خوش بخت وي ـ بدبخت هغه دے چې د مورپه خېټه کښې بدبخت وي ـ
بره نقل شوي دحديث الفاظ د حديثونو کنزالعمال نومې کتاب نه نقل شول ـ خو په دغه ضمن کښې د بخاري يو حديث داسې دے:

اِنَّ اَحَدكُمْ يُجْمَعُ خَلْقُه' فِىْ بَطْنِ اُمِّهٖ اَرْبَعِيْنَ يَوْمًا،ثُمَّ يَكُوْنُ عَلَقَةً مِثْلُ ذَالِکَ،ثُمَّ يَكُوْنُ مُضْعَةً مِثْلُ ذَالِکَ، ثُمَّ يَبْعَثَ اللّٰه مَلَكًا فَيُؤْمَرُ بِاَرْبَعِ كَلِمَاتٍ ، وَيُقَال لَه': اُكْتُبْ عَمَلَه'،وَرِزْقَه' ،وَاَجَلَه'شَقِىٌّ اَوْ سَعِيْدٌ، ثُمَّ يُنْفَخُ فِيْهِ الرُّوْحُ [31]

ترجمه: بې شکه په تاسوکښې هريوکس دمورپه خېټه کښې څلوېښت ورځې کښېږدولے شي ـ بيادغومره ورځې ټينګه وينه شي ـ بيا دغومره ورځې غوښه شي ـ بياالله پاک يوه فرښته رااولېږي،او (ددې بنده په حق کښې) دڅلوروخبروحکم وفرمائي ـ ددهٔ عمل،نېټه،رزق،او د دهٔ ښهٔ اوبدبخت اوليکه ـ بياپه کښې روح واچولے شي ـ
دغه مضمون خوشحال خان په يوې رباعی کښې داسې بيانوي:

دمورپه نس کښې فرشتې، ياره
دسرې وکښي دايوڅوکاره
رزق، فعلونه، عمر، ښهٔ، بدبخت
دا وسوسې دي دڅهٔ د پاره [32]

# حوالې

[۱] بلياوي، ابوالفضل، عبدالحفيظ، مولانا، مصباح اللغات، مکتبه قدوسيه، لاهور، جولائي۱۹۹۹ء، مخ۱۹۳ ـ

[۲] ابراهيم مصطفٰی، احمدحسن الزيات، حامد عبدالقادر، محمد علي النجار، المعجم الوسيط، (عربي نه اردو)، مترجمين : ابن سرور محمد اوېس، عبدالنصير علوي، مکتبه رحمانيه، لاهور، چاپ کال نهٔ لري، مخ٢٦٤ ـ

[۳] فېروزالدين، مولوي، فېروزاللغات ،(اردو نه اردو)، نياايډيشن، چاپ کال نهٔ لري،مخ٣٥٠ ـ

[٤] کمال، محمد اشرف، ډاکټر، اصطلاحات (ادبي، تنقيدي، تحقيقي، لساني) بک ټائم کراچي، ۲۰۱۷ء، مخ۱۲۵ ـ

[٥] همدغه اثر ـ

[٦] عسيلان، عبدالله عبدالرحيم، تحقيق المخطوطات بين الواقع والنهج الامثل، مكتبة الملک فهد الوطنيه، الرياض، ١٤١٥هـ / ١٩٩٤ء، مخ۲۱۱ ـ

[۷] *نذیر احمد، متون کی تصحیح و تنقید میں تخریج و تعلیقات کی اہمیت، اردو میں اصول تحقیق (منتخب مقالات): مرتبہ ڈاکٹر سلطانہ بخش، اردو اکیډمي، لاهور، اشاعت دوم، ۲۰۱۲ء، مخ ۱۸٤*

[۸] ترمذي، عيسٰی، محمد بن عيسٰی ،سنن ترمذي، تحقيق: خليل مامون شيخا، دارالمعرفه، بيروت، لبنان ، ۲۰۰۲ء ۱٤۲۳هـ، حديث نمبر ۲٦۹٥ ،مخ۱۰٤۹ ـ

[۹] همدغه اثر، حديث نمبر ۱۷۸٤ ، مخ۷۳۰ ـ

[۱۰] ابوداؤد، سليمان ابن اشعث، سنن ابي داؤد، المجلدالثاني، الجزالرابع، تحقيق وحواشيه: محمد محي الدين عبدالحميد، دار احيا التراث العربی، بېروت لبنان، چاپ کال نهٔ لري، حديث نمبر ٤۰۳۱، مخ٤٤ ـ

[۱۱] الف : ترمذي، عيسٰی، محمد بن عيسٰی، سنن ترمذي، حديث نمبر۲٦۸۲، مخ ۱۰٤٤ ـ
ب : ابوداؤد، سليمان ابن اشعث، سنن ابي داؤد، المجلد الثاني، الجز الثالث، حديث نمبر۳٦٤۱، مخ ۳۱۷ ـ
ج : ابنِ ماجه، ابي عبدالله، محمد بن يزيد القزويني، سُننِ ابنِ ماجه، داراحياالتراث العربي، بېروت، لبنان، ۱٤۲۱هـ ۲۰۰۰ء، حديث نمبر۲۲۳، مخ٤۷ ـ

[۱۲] ابوداؤد، سليمان ابن اشعث، سنن ابی داؤد، المجلدالثاني، الجزالثالث، حديث نمبر۲٥۱٤، مخ۱۳ ـ

[۱۳] ابي الحسېن، مسلم بن الحجاج، القشېري، النېسابوري (نېشاپوري)، امام، حافظ، صحيح المسلم، اعتنٰی بهٖ، ابوصهېب الکرمي، بېت الافکار الدوليه، للنشر والتوزيع، رياض، سعودي، ۱٤۱۹هـ/۱۹۹۸م، حديث نمبر۱۹۰۲، مخ۷۹۰ ـ

[۱٤] ابوداؤد، سليمان ابن اشعث، سنن ابي داؤد، المجلدالاول، الجزالثاني، حديث نمبر۲۱٤۰، مخ۲٤٤-

[۱٥] خټک، مغموم، يارمحمد، پروفېسر، ډاکټر، حاشيه بر دستارنامه، دستارنامه د خوشحال خان خټک، ناشر، ډاکټريار محمدمغموم خټک، مئ۲۰۰٥ ء، مخ۸۸، حاشيه ۱

[١٦] زاهدمشواڼي، عبدالقيوم، د دستارنامې سپړنه، دانش کتابتون، قصه خوانی بازارپېښور، ١٣٨١ل / ٢٠٠٢م ،مخ ١٣ ـ

[١٧] ترمذي، عيسٰی، محمد بن عيسٰی، سُننِ ترمذي، حديث نمبر١١٥٩، مخ٤٨٩ ـ

[١٨] ابنِ ماجه، ابي عبدالله، محمد بن يزيد القزويني، سُننِ ابنِ ماجه، حديث نمبر١٨٥٢، مخ٣١١ ـ

[١٩] ختک خوشحال خان، ارمغان خوشحال، مقدمه سيدرسول رسا، يونيورسټي بک ايجنسي پېښور، دوئم ځل چاپ ٢٠٠١ء، مخ٩٥١ ـ

[٢٠] ابنِ ماجه، ابي عبدالله، محمد بن يزيد القزويني، سُننِ ابنِ ماجه، حديث نمبر١٨٦٣، مخ٣١٣-

[٢١] همدغه اثر، حديث نمبر١٨٤٦، مخ٣١٠ ـ

[٢٢] بخاري، محمد بن اسماعيل، صحيح البخاري، تحقيق: خليل مامون شيخا، دارالمعرفه بيروت لبنان، طبعه اولی ٢٠٠٤ء ١٤٢٥هـ، حديث نمبر٥٠٦٣، مخ١٣٠٧ ـ

[٢٣] ابو داؤد، سليمان ابن اشعث، سنن ابی داؤد، المجلدالاول، الجزالثاني، حديث نمبر٢١٦٠، مخ ٢٤٨ ـ

[٢٤] بخاري، محمد بن اسماعيل، صحيح البخاري، حديث نمبر٣٢٨٣، مخ ٨٣٩ـ

[٢٥] ابنِ ماجه، ابي عبد الله، محمد بن يزيد القزويني، سُننِ ابنِ ماجه، حديث نمبر١٨٥٤، مخ٣١١ ـ

[٢٦] ابو داؤد، سليمان ابن اشعث، سنن ابي داؤد، المجلدالثاني، الجزالرابع، حديث نمبر٥١٤٩، مخ٣٣٨ ـ

[٢٧] بخاري، محمد بن اسماعيل، صحيح البخاري، حديث نمبر١(اول)، مخ٦٥ ـ

[٢٨] ختک، خوشحال خان، ارمغان خوشحال، مقدمه سيدرسول رسا، مخ٢٨٥ ـ

[٢٩] بخاري، محمد بن اسماعيل، صحيح البخاري، حديث نمبر٢٥٥٤، مخ٦٥٦ ـ

[٣٠] علاوالدين علی المتقی بنِ حسام الدين الهندی، البرهان فوري (برهان پوري)، کنزالعمال، جلد ١، تحقيق: الشيخ بکري حياني، موسسه رساله،شارع سوريا، بېروت، طبعة الخامسه، ١٩٨٥ء/١٤٠٥هـ، حديث نمبر٤٩١، مخ١٠٧ ـ

[٣١] بخاري، محمد بن اسماعيل، صحيح البخاري،حديث نمبر ٣٢٠٨، مخ ٨٢٤ ـ

[۳۲] خټک، خوشحال خان، د خوشحال خان خټک کليات، اوډنه، پرتلنه، سمون او وېبپانګه، عبدالقيوم زاهدمشوانی، دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۷ل / ۲۰۰۸ز، مخ ٤١٤ ـ